## We Move (مونږ حرکت کوو) - د خوځښت تجهیزاتو تصویب لارښوونې

دا بودیجه کولی شي د ماشومانو لپاره د ژوند بدلوونکي د معلولیت تجهیزات واخلي چې د معیاري خدماتو له لارې په آسانۍ سره شتون نلري.

غوښتونکي کولی شي یو یا څو توکي غوره کړي، چې په مستقیم ډول د ماشوم په تشخیص پورې اړه لري او د GP یا اړونده روغتیایي مسلکي کس لخوا یې سپارښتنه کیږي.

### وړتیا

-ماشومان د 0 - 18 کلونو عمر ولري

-هغه ماشومان چې معلولیت لري یا اوږد مهاله روغتیایي حالت ولري چې په رسمي ډول د روغتیایي مسلکي کس لخوا پېژندل شوی وي.

-د کورنۍ ټول عاید په کال کې د 200,000 ډالرو څخه کم دی (د ماشوم ملاتړ، د پانګونې عاید، بهرنۍ عاید، یا کوم بل عاید) په ګډون

-د NSW او ACT ټول اوسیدونکي د غیر اتباعو او لنډمهاله ویزو لرونکو په ګډون غوښتنلیک ورکولی شي.

### د وړ غوښتنو بیلګې

-د معلولیت سره مطابقت لرونکي د لوبو سامانونه او د خوندیتوب تجهیزات

- د ځانګړو اړتیاوو ددرلودونکو لپاره د ماشومانو بایسکیلونه (سټرولرونه) او ویلچیرونه

-ویلچیرونه - باید د OT لخوا ارزول شوي وي، توصیه شي، او وازمول شي

- د معلولیت سره مطابقې څوکۍ او د موټر ځانګړې څوکۍ

- د اړتیاو سره سم تبدیل شوي بایسکلونه، درې ټیرونو لرونکي بایسکیلونه او سکوټرونه

-مرستندویه سپي (جزوي تمویل). یوازې په داسې وخت کې په پام کې نیول کیږي چې د دوی د خوځښت او خپلواکۍ سبب شي

### اړین اسناد

لاندې ضمیمې باید د غوښتنلیک د یوې برخې په توګه شاملې شي

1. د GP یا د ماشومانو د ډاکټر لیک چې د ماشوم تشخیص / حالت بیانوي.

   چې باید د غوښتنلیک په 12 میاشتو نیټه کې ترتیب شوي وي

2. د روغتیایي پاملرنې مسلکي کس څخه د ملاتړ لیک (د بیلګې په توګه، حرفوي معالج، د وینا معالج، فزیوتراپیست، یا د ماشومانو رنځپوهنه) چې لاندې ټکي په ګوته کړي:
   - غوښتل شوي تجهیزاتو ته اړتیا
   - تجهیزات به څرنګه د ماشوم په عمومي هوساینې، پرمختګ او په ورځني فعالیتونو کې ګډون ته وده ورکړي
   - د تجهیزاتو د ازموینې شواهد (که چیرې د تطبیق وړ وي)، د غوښتنلیک څخه د شپږو میاشتو په نیټه کې

3. د غوښتل شوي تجهیزاتو لپاره **نرخ**
   - د دریو میاشتو څخه زاړه نه وي او د ارزونې پروسې په اوږدو کې د اعتبار وړ وي.

4. که ستاسو ماشوم د **NDIS** تمویل ولري لاندې موارد باید چمتو کړئ:
   - په ګوته کړئ چې ولې غوښتل شوي توکي د ماشوم د NDIS په پلان کې ندی شامل شوي
   - د NDIS د تمویل ختم یا رد کیدو ثبوت
5. **د کورنۍ عاید** - د هر مور او پلار / پالونکي لپاره چې د ماشوم لپاره مالي مسؤلیت لري باید لاندې موارد وسپاري:

- ستاسو د ATO وروستي د عوایدو شرح

او

- که د Centrelink تادیات ترلاسه کوئ - ستاسو د سینټرلینک ترټولو وروستي د عوایدو شرح (سټیټمینټ)
- که چیرې مور او پلار کارکوی - د معاش 2 ورستي رسیدونه چی کلنی عاید ښیې
- که چیرې مور او پلار / پالونکې د Centrelink تادیات نه ترلاسه کوي او بیکاره وي - د بانک وروستی 3 میاشتنی شرح
- که چیرې مور او پلار خپل کار کوي - د بانک وروستی درې میاشتنی شرح.

**که مور او پلار جلا وي او یو یې لاهم د ماشوم اړتیاوو کې مرسته کوي (مګر د کور څخه بهر ژوند کوي)، د دوی مالي اسناد هم اړین دي.**

## غوښتنلیکونه

-د غوښتنلیک فورمه آنلاین ده او په انګلیسي ژبه ده. که تاسو په انګلیسي ژبه لوستلو او لیکلو کې مرستې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د ملاتړ کونکي شخص څخه مرسته وغواړئ لکه طبي مسلکي کسان، د قضیې کارکونکي، ښوونکي، معالج، د کورنۍ غړي یا ملګري.

## د نه منلو وړ غوښتنې

-غوښتونکي په تیرو 12 میاشتو کې د We Move (مونږ حرکت کوو) د تجهیزاتو د بودیجې لپاره غوښتنه کړې وي

-بیرته تمویل شوي تمویل - یوازې هغه لګښتونه چې د مرستې له تصویب وروسته چمتو شوي وي وړ دي

-وسایل په مستقیم ډول د ماشوم اضافي اړتیاوو سره تړاو نلري یا په طبي توګه اړین ندي

-د درملنې سیې، د رواني مرستې سیې، او د احساساتي ملاتړ ځاروي

-د سفر لګښتونه

-تضمین، بیمه، ساتنه، د خدماتو تړونونه، بیټرۍ، ترمیم

-اداري فیسونه یا عملیاتي لګښتونه

-د سپورت تجهیزات چې د تطابق وړ نه دي یا روښانه ندي چې دوی د اضافي اړتیاوو ملاتړ څرنګه کولای شي

-د غیر آسټرالیایي پلورونکي څخه د تجهیزاتو اخیستل چې نشي کولی په مستقیم ډول Variety (ورایټي) ته رسید ورکړي

-د سرمایه کارۍ او نصبولو لګښتونه

## د بودیجې د غوښتنلیکونو تصویب

-غوښتنلیکونه د Variety (ورایټي) کمیټې لخوا تصویبیږي. د بریښنالیک له لارې خبرتیا ممکن تر 8 اونیو پورې وخت ونیسي.

## بریالي غوښتنلیکونه

-د پایلو لیک د بریښنالیک له لارې لیږل کیږي چې د مرستې کارولو څرنګوالی په ګوته کوي.

-بریالي غوښتونکي د خپلې بودیجې د کارولو لپاره د تصویب د لیک له نیټې څخه 12 میاشتې وخت لري.

- نا مصرف شوې بودیجه به د مرستې له پای ته رسیدو وروسته ضبط شي

## د تجهیزاتو تادیه

-په غوښتنلیک کې مشخص شوي عرضه کوونکي باید غوښتونکي ته رسید چمتو کړي چې Variety – The Children's Charity NSW/ACT (ورایټي) ته تادیه کیږي د تصویب شوي توکي او مقدار لپاره

-ورایټي Variety NSW/ACT غوښتونکو ته مستقیمې پیسې نه ورکوي

**ناکام غوښتنلیکونه**

-د بودیجې د کمیټې په اختیار کې ده او غوښتونکي په 12 میاشتو کې د بیا غوښتنلیک وړ دي

**نور معلومات**

که تاسو نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د ماشومانو د ملاتړ ټیم سره اړیکه ونیسئ
kidssupport@varietynsw.org.au